دعاګانې ترې ثابتې دي، صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په مختلفو ځایونو کې دعاګانې یادې کړې دي. په دې کې اکثر داسې دعاګانې دي، چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دومره په جهر سره کړې دي، چې صحابه وواورېدلې دي، اوهغه یې موږ ته رانقل کړې دي. داسې قسم دعاګانې که چېرته څوک هغه تولې ولیکي، چې نبي علیه السلام به په جهر کولې نو یو غټ کتاب به ترې جوړ شي

**زه دلته یو څو دعاګانې د مشت نمونه خروار په توګه لیکم**

۱: له قرض (پور) نه د خلاصېدو دعا. له انس ﷺ څخه روایت دی، چې ما په له نبي ﷺ نه د ډېر وخت دا دعا اورېدله

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ»

صحيح البخاري (٤ / ٣٦)

بخاری مع الفتح: ٦\٨٦.

۲: قنوت نازله

أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ مِنَ الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ مِنَ الفَجْرِ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ العَنْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا وَفُلاَنًا»

صحيح البخاري (٥ / ٩٩)

ددې تفصیل په فتاوی الدین الخالص: ٥٨٧\٥ ، ٢٠١. کې کتلای شئ.

۳: دانصارو په باره کې دعا: وعن ابن عمر رضی الله عنهما

أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ، وَلِأَبْنَاءِ الأَنْصَارِ»



صحيح البخاري (٦ / ١٥٤)

(بخاري مع الفتح: ٧\٣٦٥).

۴: دقبرعذاب نه پناه: عائشة رضی الله عنها فرمايي: ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدلو، چې د قبر عذاب څخه یې پناه غوښتله. (بخاري مع الفتح: ١١\١٧٤)

۵: تر فرض لمانځه وروسته دعا:

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ المُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ وَرَّادٍ مَوْلَى المُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: كَتَبَ المُغِيرَةُ، إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ إِذَا سَلَّمَ: «لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ»

صحيح البخاري (٨ / ٧٣)

۶: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخري دعا:

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ»

صحيح البخاري (٦ / ١١)

عايشة رضی الله عنها فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل وفات څخه مخکې دا دعا ویله تر دې، چې روح مبارک یې له بدن نه ووتلو

تقریري سنت:

۱: فضالة بن عبید فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم له یو کس نه واورېدل، چې په لمانځه کې یې دا دعا کوله ....... الحدیث ترمذی مع التحفة: ٤\٢٥٣،

٢: عن مُسْلِمُ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعَنِي أَبِي، وَأَنَا أَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالكَسَلِ وَعَذَابِ القَبْرِ» . قَالَ: يَا بُنَيَّ مِمَّنْ سَمِعْتَ هَذَا؟ قُلْتُ: سَمِعْتُكَ تَقُولُهُنَّ، قَالَ: الزَمْهُنَّ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهُنَّ.

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٥٢٨):

[حكم الألباني] : صحيح الإسناد

ژباړه:

له مسلم بن ابي بكرة څخه روايت دی، چې ده دعاكوله؛نوپلاريې ترې واوريده ورته يې وويل دادې له چانه ياده كړې ده؟هغه ورته وويل له تانه پلاريې ورته وويل ضرور يې وايه، ځكه داماله رسول الله ﷺ څخه اوريدلې ده هغه به ويله.

داحديث اومخكنی حديث دواړه په دې دليل دي، چې په دعاكې جهررواديي، اوهره دعاپه پټه كول ضروري نه دي.

دغه شان مخكې حديث كې رسو الله ﷺ ددغه صحابي نه دعااوريدلې ده ليكن رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته دانه ويله، چې دعاپه پټه كوه، اوتادقران خلاف وكړه.دغه رازدريم حديث كې دي، چې دصحابي ځوی هم دعاپه زوره ويله، ځكه يې پلارترېنه واوريدله دغه شان پلاريې هم په زوره كوله، ځكه ترې ځوی ياده كړې وه، همدغه رازرسول الله هم په جهركړې ځكه دغه صحابي ترې ياده كړې ده.

٣: وعن سعيدبن المسيب قال: صليت وراء ابي هريرة على صبى لم يعمل خطيئة قط.فسمعته يقول اللّٰهُمَّ اعذمن عذاب القبر.

عَنْ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ: صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى صَبِيٍّ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً قَطُّ. فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.



ژباړه:

سعيدبن المسيب فرمايي مالبورهيره پسې ديوماشوم جنازه وكړه. چې هيڅ عمل يې هم نه وه كړی؛نوترې وامې اوريده. چې ويل يې ای الله دقبرعذاب نه يې وساته

موطأ مالك ت الأعظمي (٢ / ٣٢٠)

(مشكوة: ١|١٤٧)

٤: وروى البخاري تعليقا قال:

يقرالحسن على الطفل فاتحة الكتاب ويقول: اللّٰهُمَّ اجعله لنا سلفا و فرطا و ذخرا واجرا. مشكوة: ١|١٤٨.

الغرض له رسول الله صلى الله عليه وسلم اوتابعينونه ترننه پورې دعاپه جهرثابته ده.

له دې نه ښكاره اوپه ډاګه معلومېږي، چې كه څېرته په جهرسره دعاكول دقران كريم خلاف وی؛نورسول الله صلى الله عليه وسلم اودهغه صحابه ووبه هيڅكله هم په جهرسره دعانه كولی. بلكې ددې نه به يې سخته منع كولای

مګر رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې نه دي كړي، بلكې دهغه په خپله عملي نمونه پيش كړه چې دعاپه اوچت اوازاوصوت مسموع سره بلاشبه جائزده

(وګوره امين بالجهرللشيخ محمد يحيى ګوندلوي رح)

له دې نه په مطلق دعاكې دجهرجوازمعلومېږي اوآمين بالجهركې خوحديثونه اواثرونه دصحابه كراموهم بې شمېره راغلي دي، چې آمين په زوره ويل سنت دي

۴: ځلورمه وجه: په دې ايت کريمه باندې دامين پټ ويلولپاره دليل نيول، ځکه غلط دي، چې مخالفين هم ځيني دعاګانې په جهرسره کوي. لکه دوی هم په جهري لمونځونوکې اهدناالصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غيرالمغضوب عليهم ولاالضالين هم په جهروايي. کله چې امامتي کوي دغه رازکې په لمانځه کې دقران کريم بې شمېره دعاګانې هم په جهرسره وايي

بلکې عجيبه داده، چې ځيني بدعتيان کې ديهودوصفت دی، آمين بالجهرورباندې ډېربدلګې. اوآمين بالجهرپسې ټوقې کوي، دېته رمبارې وايي، او د امين بالجهر ښکاره دښمنان دي، سره له دې، چې دوی: خو د سنتو، فرضونه وروسته په عامو وختونو کې په جهر سره دعاګانې کوي او دا قسم دعاګانې ثابتې هم نه دي او بل لوري ته، چې کومه دعا (آمين بالجهر) په صحيح حديثونوسره ثابت دی هغه نه کوي ـ ان هي الافتنتک تضل بهامن تشاء: نو موږ ددې قسم حنفيانو نه پوښتنه کوو، چې ايا سورت فاتحه دعاده که نښېرې؟

که دعا وي: نو بيا ولې تاسې په جهري لمونځونو کې په جهر سره وايئ ايا دا دعا نه ده؟ که دعا وي او تاسې يې په جهر سره وايئ؛ نو ايا دا د ادعوا ربکم تضرعا وخفية نه مخالفت نه دی که چېرته مخالفت وي:نوبيادآمين بالجهرباره کې ولې دېته مخالفت وايئ

نومعلومه شوه، چې دا استدلال يوغلط اوبې بنياده دی.

دحنفيانودويم دليل

وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ [الأعراف: ۲۰۵]



ژباړه:

خپل رب سباوبېګاه په پټه اوعاجزۍ پرته له په زوره وينانه يادوه اوله غافلانومه کېږه

ځيني تعصب کونکې مقلدين په دې ايت کريمه باندې دليل نيسي دپټ امين ويلولپاره،

ځواب: دادليل نيول بې بنياده دي اوددې دبې بنيادۍ هم ډېرې وجهې دي

۱: اوله وجه: کله چې د امين بالجهر باره کې صحيح حديثونه راغلل؛ نو بيا ددې په مقابله کې په عموماتو باندې دليل نيول دتعصب اوناپوهۍ نه پرته بل هيڅ نه دي

۲: ډېرداسې ذکرونه شته، چې هغه په جهرسره کول بالاتفاق ضروري دي، او ډېر داسې دي، چې په هغې باندې جهرکول بالاتفاق جائز دي، لکه اذان، اقامت، د حج تلبيه، تکبيرات العيدين، سلام، اودهغې ځواب، دقران کريم تلاوت، دلمانځه نه وروسته الله اکبرويل، دوترونه روسته تسبيحات ويل اوداسې نور؛

؛نوامين هم ددغه ذکرونونه يوذکردی، چې داپه جهرسره مشروع شوی دی ددې تفصيل لپاره دعلامه عبدالحی لکهنوی رساله وګوره: سباحة الفکر في الجهر بالذکر، او مجموعه رسائل اللکهنوی ۴۵۹/۳، علامه عبدالحی په دې رساله کې داثابته کړې ده، چې په ذکر سره جهر غير مفرط جائز دی، او په دې باندې يې (۴۹) حديثونه په دليل کې ذکرکړي دي،

حاصل دا چې: تاسې اذان، اقامت، تلبية الحج، تکبيرات العيدين او نور ذکرونو باندې جهر کول، چې په کوم دليل باندې جائز ګڼئ بالکل په هم هغه دليل باندې موږ هم امين بالجهر جائز ګڼو فما هو جوابکم فهو جوابنا

٣ دحنفيانودريم دليل

احناف په دليل کې د امام عطاء د اقول هم پيش کوي

قال عطاء آمين دعاء ـ صحيح البخاري ـ ١٠٧١١،

١ ځواب

دا خبره موږ مخکې ذکرکړه، چې هره دعا په پټه باندې نه وي، بلکې ډېرې داسې دعاګانې دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه له صحابه کرامو نه په جهرسره ثابت دي، او د دې مثالونه ذکرشول

٢ دا په دليل کې احناف هله پيش کولی شي. کله چې د دې باره کې څه حديثونه او اثرونه راغلي وی؛ نو بيا احنافو ويلای شو. چې امين په کراره ويل پکاردي، ځکه امين دعا ده حال دا. چې دلته خو الحمدلله موږ سره صحيح حديثونه شته، لکه ځيني له هغې نه مخکې ذکرشول

٣ لکه څنګه، چې امام عطاء ويلي، چې امين دعا ده نو ورسره همدغه امام دا هم ويلي. چې امين به صحابه کرامو په جهر سره وايه، لکه مخکې د البيهقي او ابن حبان روايتونه ذکر شول. بلکې په مصنف عبدالرزاق ٩٧١٢، کې داسې ذکردي

ابن جريج فرمايي

قال: قلت لعطاء: آمين؟ قال: لا ادعها ابدا، قال اثرام القران في المكتوبة والتطوع؟ قال: ولقد كنت اسمع الائمة يقول على اثرام القران: امين، هم انفسهم ومن ورائهم حتى ان للمسجد للجة.

ژباړه

ابن جريج وايي: ماعطاء ته وويل آمين ويل پکاردي؟هغه وويل زه هيڅکله امين نه پرېږدم. هغه بياعرض وکړه: په فرض او نفلو دواړو کې به



د سورت فاتحې نه پس امين (په زوره) لولي؟عطاء وفرمايل مابه له امامانو نه اورېدل. چې تر سورت فاتحې نه پس به دوی او د دوی مقتديانو داسې امين وايه. چې جومات به کړنګار وکړه

٤ ځلورم دا چې امين مستقله دعا نه ده. بلکې دا ختم الدعاء ده. له دې امله که يو کس صرف امين. امين وايي؛ نو دا به دعا نه وي؛ نو. چې امين مستقله دعا نه ده. بلکې د دعا مهر يا متعلق دی؛ نو چې دعا په زوره وي نو ختم به يې هم په زوره وي (امين به په زوره وي) او که دعا په پټه وي نو ختم به يې هم په پټه وي؛ نو له دې عقلي تقاضا نه ولي حنفيان سرغړونه کوي!

٤ د حنفيانوځلورم دليل

عن علقمة بن وائل عن ابيه عن النبي صلى الله عليه وسلم قرا غير المغضوب عليهم و لاالضالين فقال امين و خفض بها صوته.

رواه الترمذي: ١\٥٨،

ژباړه

علقمة له خپل پلار وائل څخه روايت کوي، چې نبي عليه السلام غير المغضوب عليهم و لاالضالين ولوست نو امين يې ووايه او اواز يې پرې ښکته کړه

پوښتنه احناف وايي دا حديث دليل دی پر دې. چې امين به پټه ويل پکار دي، دغه شان دوی وايي، چې د وائل بن حجر حديث مسنداحمد. حاکم. مسند ابويعلی وغيره کې هم راغلی دی، او هلته هم دا دی، چې نبي عليه السلام امين په پټه وويلو

(مسنداحمد: ٣\١١١، حاکم: ٢\٢٣٢، مسند ابويعلى: دارقطني: ١\٣٢٨، نصب

الرايه: ١\٢٨٩، بيهقي: ٢\٥٧،

ځواب: دا هغه بنيادي روايت دی، چې په دې باندې د احنافو د دليل نيولو دار مدار دی؛ نو لومړی دلته موږ ددې روايت په سند بحث کوو، ځکه د سند روغ والی او کمزوري، چې کله وپېژندلی شي، بيا فيصله کول اسان وي، دويم: د روايت په مانا باندې بحث کوو.

لومړی: د امين په پټه ويلو د روايت د سند حال:

دا ياد وساته، چې ددې روايت، چې څومره طريقې د سند دي دا مختلف فيه الفاظ دي، ددې ټولو دارمدار او انحصار صرف په امام شعبه باندې دي، او د امام شعبه نه. لکه څنګه چې ترې د امين په پټه ويلو روايت نقل دی؛ نو همداسې ترې دامين په ښکاره ويلوروايت هم نقل دی، لکه ابن حبان په خپل صحيح کې: ۱۴۲\۴، اواما بيهقي په خپل سنن: ۵۸\۲، کې روايت کړی دی، چې ((رافعا بها صوته)) په امين به يې اوازپورته کاوه.

اوددې تاييدډېرومحدثينوکړی دی، مګرد (خفض اواخفاء) روايت، چې امام شعبة نقل کړی دی په دې کې امام شعبه يواځې دی (خفض اواخفاء) دروايت تائيديومحدث هم نه دی کړی، اواغه شان نه دامين بالسر ويلوروايت تائيدپه بل موقوف يامرفوع روايت باندې شوی، بلکې محدثينوخوپه واضحواوښکاره الفاظوسره داخبره کړې ده، چې دامين په پټه ويلوپه روايت کې امام شعبه خطاشوی دی،

په خپله امام ترمذی هم په خپل جامع کې (۵۸\۱، ويلي دي چې امام شعبة د امين په پټ ويلو روايت کې درې ځای خطا شوی دی، چې يو په هغه ځايونوکې دادی، چې امام شعبه د (رفع بها صوته) پرځای خفض ويلی دی،



بيا امام ترمذی د امام المحدثين او امير المؤمنين فی الحديث امام بخاري قول رانقل کړی دی، چې فرمايي

سمعت محمدا يقول حديث سفيان اصح من حديث شعبة و اخطا شعبة.

ماله امام بخارې څخه واورېدل. چې دسفيان حديث دشعبه له حديث نه ډېرصحيح دی اوشعبه خطاشوی دی.

اودافيصله صر ف دامام بخاري نه، بلکې دافيصله امام ابوزرعة هم کړي ده، لکه هغه هم امام ترمذی په سنن الترمذی (۵۸\۱،کې نقل کړي ده، دغه شان دافيصله امام دارقطني هم کړي ده لکه هغه فرمايي

ويقال انه وهم فيه لان سفيان الثوري ومحمد بن سلمة بن كهيل وغير هما رووه عن سلمة فقالوا ورفع صوته بامين وهو الصواب.

ژباړه:

داسې ويلي شي، چې شعبه ته په دې کې وهم راغلی دی، ځکه سفيان او محمد بن سلمة اوداسې نوروله سملة نه (رفع بها صوته) نقل کړی دی، اوهمداحق دی،

(دارقطني: ١\٣٣٤، تحفة الاحوذي: ١\٢١١)

امام بيهقي خوداخبره نوره هم واضحه کړي ده ليکي:

قداجمع البخارى وغيره من الحفاظ على ان شعبة اخطافي هذا الحديث فقدروى عنه فجهربها

ژباړه:

بخاري اونوروپه دې اجماع کړ ي، چې شعبه په دې کې خطاشوی دی، ځکه دسمله نه روايت دجهرويلوراغلی دی، (بحواله امين بالجهرص: ١٢٣)

حافظ ابن حجرخپله فيصله په دې الفاظو سره کوي:

وقدرجحت رواية سفيان بمتابعة اثنين له بخلاف شعبة فلذالك جزم النقادبان روايته اصح.

ژباړه

دسفيان روايت ددوه متابعينوله امله غوره کړی شوی دی، اوشعبه لره متابع نشته؛ نو ځکه ناقدين (په حديثو کې د صحت او ضعف خبري کونکي) په زغرده وايي، چې د سفيان روايت صحيح دی، (التلخيص الحبير: ١\٣٣٨، امين بالجهر مسلک احناف کامدلل جواب: ١٢٣-١٢٥ لمولانامحمديحيى گوندلوي)

دا خو ددې بيان وه، چې امام شعبه په دې روايت کې خطا شوی دی. لوستونکيو د هغه په روايت جرح وکتله. محدثين، چې د سفيان روايت د شعبه په روايت غوره کړی دی نو دايې بې دليله نه دي کړي، بلکې په دې باندې ډېر دليلونه دي،

(١) د ترجيح لپاره يوغټ دليل دادی دا روايت، چې امام سفيان له وائل څخه نقل کوي نو ده لره متابع (تاييدکونکي) شته، چې ددې تاييد ډېرو محدثينوهم کړی دی، او نورمرفوع حديثونه يې هم تاييدکوي، لکه مخکې په امين په جهرويلوباندې ډېردليلونه تيرشول.

(٢) داامام شعبه نه هم دجهر روايت نقل دی، لکه مخکې د ابن حبان او بيهقي په حواله د شعبه روايت کې هم امين په جهر ذکر شو

(٣) د امام شعبه وهم دی، او هغه ده ته په خپل روايت کې شک پرېوتلو کله (خفض) روايت کوي او کله (اخفى) روايت کوي؛ نو د شعبه روايت مضطرب شه. (بلوغ الاماني شرح مسنداحمدالشيباني: ٣\٢٠٥).

(٤) پر دې د علماوو اتفاق دی، چې کله د امام سفيان او شعبه ترمينځ



اختلاف راشي نو د امام سفيان روايت ته به ترجيح ورکولای شي او صرف د هغه روايت به قابل قبول وي، ددې په مقابله کې به د امام شعبه روايت ناقابل قبول وي، لکه ددې تفصيل په دې ډول سره دی،

١ امام ابن عيينة فرمايي

ما بالعراق احد يحفظ الحديث الاسفيان.

ژباړه:

په عراق کې له سفيان نه پرته حديث څوک نه يادوي،

٢ امام احمدبن حنبل فرمايي

سفيان احفظ للاسناد و اسماء الرجال من شعبة وبقول سفيان اخذ.

ژباړه

سفيان ته د شعبه نه ډېر سندونه او د راويانو نومونه ياد دي؛ او زه د سفيان وينا اخلم

اسحق بن هانی فرمايي

ما له امام احمدنه پوښتنه وکړه، چې په يوحديث کې دسفيان اودشعبه اختلاف راشي؛ نو د چا حديث به اخلو؟ امام احمد راته وويل: زه به د سفيان په حديث عمل کوم (شرح علل ترمذي: ١٢٥)

٣ امام يحيى بن سعيد فرمايي

مارايت احدا احفظ من سفيان، ثم شعبة، ثم هشيم، وذكرشعبة وسفيان فقال سفيان اقل خطاء، لانه يرجع الى كتاب وقال: سفيان اثبت من شعبة واعلم بالرجال.

ژباړه

ماله سفيان نه ډېر يادوونکی نه دی ليدلی، او بيا له شعبه، او بيا له

هشيم نه، او د سفيان او شعبه په اړه يې ويلي دي، سفيان کم خطا کېږي، ځکه ده به خپل کتاب ته رجوع کوله او دا يې هم ويلي، سفيان له شعبه څخه ډېر قوي او عالم بالرجال وه.

(شرح علل الترمذي ۱۲۵)

۴: امام بن معين فرمايي

اذا خالف شعبة سفيان فالقول قول سفيان.

کله چې شعبه له سفيان څخه خلاف وکړي؛نوخبره دسفيان معتبره وي

نصب الراية: ۱\۳٦۹.

۵: دامام صالح جزره تحقيق

سفيان احفظ من شعبة.

سفيان له شعبه څخه ډېرحافظ دی. تذکرة الحفاظ ص: ۲۰٦.

۶: دامام ابوداوود رای

وليس يختلف سفيان وشعبة في شيئ الايظفربه سفيان وخالفه في اکثرمن خمسين حديثا القول فيهاقول سفيان.

ژباړه:

د سفيان او شعبه چې کله هم اختلاف راشي نو د سفيان وينا به غوره وي، او شعبه له سفيان څخه په پنځوس (۵۰) ځايونو کې اختلاف کړی دی، چې په هغې کې د سفيان حديث معتبر دی

سيراعلام النبلاء: ۷\۲٤۰، شرح علل ترمذي ص: ۱۲۵.

۷: امام ابو زرعة فرمايي:

کان الثوری احفظ من شعبة في اسناد الحديث ومتنه.

ژباړه:



سفيان ثوري له شعبه نه دحديث په متن اوسند کې ډېريادونکی وه

مقدمة الجرح والتعديل ص: ٦٦،

۸: دامام ابوحاتم فيصله:

هوا حفظ من شعبة و اذا اختلف شعبة والثورى فالثورى،

ژباړه:

سفيان له شعبه نه ډېر حافظ دی، او کله، چې يې اختلاف راشي نو د ثوري خبره به معتبره وي

مقدمة الجرح والتعديل: ٦٦.

۹: دامام ابن حجرمحققانه تبصره:

هوا تقن واحفظ من شعبة

سفيان له شعبه نه ډېرقوی اوحافظ دی فتح الباری( ۴۲۸\۹)

۱۰: دامام شعبه خپله فيصله دسفيان په اړه:

سفيان له مانه ډېرحافظ (يادونکی) دی (تذکرة الحفاظ)

۱۱: دامام ابوحنيفة فيصله

لوكان سفيان الثورى فى التابعين لكان فيه له شن فقال يا اباحنيفة ما تقول فى الاخذ عن الثورى؟ فقال: اكتب عنه فانه ثقة ماخلا احاديث ابى اسحق عن الحارث وحديث جابر الجعفي.

ژباړه:

که سفيان په تابعين کې وی نوده لره به لوړه مرتبه وی، نوده ته وويل شو ستادسفيان نه دحديثونقل کولوپه اړه څنگه رايه ده؟هغه وويل حديث ترې نقل کوئ، ځکه داثقه دی:خو کوم روايات، چې د ابواسحق په واسطه له حارث نه نقل کوي، او د جابرالجعفي نه يې نقل کوي؛ نو دا ترې مه نقل

کوئ،

(دلائل النبوة للامام البيهقي: ١|٤٥)

«له اسحق او جابرنه د روايت نه ليکلو لا مل داوه، چې دا دواړه رافضيان او دروغجن وو»

ديادونې وړده، چې له سفيان نه کوم روايت دامين بالجهر نقل دی؛ نو به هغې کې له دغه دواړو څخه يو هم نشته.

محترمو لوستونکيو!

د جرح او تعديل او د حديثونو د امامانو وينا وې مو ستاسې په وړاندې کېښودې، چې ټولو ويلي له سفيان څخه ډېر حافظ نشته او کله، چې د سفيان او شعبه ترمينځ په روايت نقل کولو کې اختلاف راشي؛ نو د سفيان روايت له به ترجيح وي، او دده روايت به د عمل قابل وي، او د شعبه روايت به پرېښودلی شي

اوس ببرته خپلې موخې ته راځو، چې د وائل بن حجر نه امام سفيان داسې روايت نقل کړی دی، چې «رسول الله صلی الله عليه وسلم به امين په زوره ويلو» او امام شعبه د وائل بن حجر نه روايت کوي، چې «رسول الله صلی الله عليه وسلم به آمين په قلاره ويلو» اوس د امام سفيان متابع (تاييد کونکي) هم شته يانې د وائل بن حجر نور شاګردان هم له وائل بن حجر څخه د جهر روايت نقل کوي، چې نبي عليه السلام به امين په زوره ويلو او ددې روايت تاييد نور روايتونه هم کوي،

او د امام سفيان او شعبه اختلاف راغی؛ نو دې په اړه دجرح او تعديل امامان څه ويلي دي؟ تاسې دهغوی خبرې وکتلې، چې هغوی ټولو دسفيان روايت غوره کړی دی، او دشعبه روايت ضعيف ګڼي

داخو د روايت دصحت او ضعف په اړه خبرې وې



اوس به راشو ددې روايت مانا ته.

نو دامام شعبه روايت سره له دې، چې کمزوری دی، بيا هم داحنافو لپاره دليل نه شي جوړېدای، ځکه چې داحنافو مذهب او عمل دادی، چې امين به دومره اندازه ويلی شي، چې ډېر نږدې نږدې کس يې هم نه اوري، حالانکه په دغه روايت کې د (خفض) دا مانا کول د خفض د مفهوم او مانا خلاف ده.

د صحيح بخاری په يو روايت کې د(خفض) مانا ډېر په ښه انداز کې معلومېږي او هغه دا، چې عروة الثقفي، چې کله دصلح حديبيه په موقع دصحابه کرامو حال احوال وليدل او بيا قريشو ته ستون شه نو هغه په خپلو تاثراتو کې يو تاثير دابيانوي، چې صحابه کرامو به درسول الله صلى الله عليه وسلم ډېر ادب کاوه او

اذاتکلموا خفضوا اصواتهم عنده.

کله به چې صحابه وو درسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور کې خبرې اترې کولې نو په قلاره «او ټيټ اواز سره به يې خبرې کولې»

صحيح البخاري: ١|٣٧٩، ٣٧٧، باب الشروط في الجهاد، رقم الحديث: ٢٧٣١،

او دخفض دامانا صاحب الهدايه هم په مسئله داذان کې بيان کړې ده، لکه موصوف داذان د ترجيع په اړه کې ليکي

وهوان يرجع فيرفع صوته بالشهادتين بعدماخفض بهما-هدايه: ١|٨٧.

هغه داچې شهادتين به په يوځل په قلاره اوازسره وايي او بيا به ورباندې اواز اوچت کړي ظاهره خبره ده، چې په اذان کې دمؤذن اول ځل شهادتين هم اورېدلی شي، ليکن ددويم ځل په نسبت باندې لږ په ټيټ او ښکته اوازسره وي، اودې مانا ته داحنافو ښت محقق عالم علامه ابن الهمام هم اشاره کړې ده هغه ليکي:

لوكان الى في هذاشيئ لوافقت بان رواية الخفض يرادبهاعدم القرع العنيف الخ.

ياني كه دې كاركې زماوس رسېدلی نومابه داسې موافقه کړې وی. چې دلته دخفض نه مرادډېرتيزاوازنه کول دي.

فتح القديرشرح الهدايه: ١\٢٥٧،

له دې ټولوشواهدونه معلومه شوه، چې (خفض) اواز هم اورېدلی شي حال داچې دا د احنافو د مذهب سره منافي او مخالف ده؛ نو له دې نه د احنافو استدلال صحيح نه دی.

امين بالجهر مسلک احناف کا مدلل جواب قران اورسنت کی روشنی میں ص(١٢٣: ١٣٠) للشيخ محمد يحيى گوندلوي. اعلام الموقعين ٣٥٨\٢، ٣٥٧. ابكارالمنن ص ١٩٩: ٢٠١. فتاوى الدين الخالص ١٥٩\٤، تحفة الاحوذي ١\٢١١.

دغه شان کوم روايت کې چې راځي

فسمعته حين قال ولا الضالين قال امين واخفى بها صوته.

(ما له رسول الله نه واورېده، چې کله يې ولا الضالين ووايه نو امين يې په پټه و وايه.

داروايت هم دامين بالاخفاء لپاره ذکرکول صحيح نه دي، ځکه:

اولا: مخکې موږ ذکرکړل، چې د امين بالاخفاء په روايتونوکې شعبه راغلی دی، چې له سفيان څخه يې په کې مخالفت کړی دی: نو له دې امله دده روايت د سفيان په مقابله کې کمزوری اومضطرب دی،

ثانيا: له دې روايت نه په دې وجه هم د احنافو لپاره استدلال صحيح نه دی، چې په دې کې دا دي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د



ولاالضالين ويلونه پس امين ويل واورېدل؛نوچې امين ترېنه صحابي واورېدلونوداپه پټه شو اوکه په ښکاره؟که په پټه وی؛نو بيا دغه صحابي څنګه واورېدو؟دغه شان په دې روايت کې ((قال)) ياني رسول الله صلى الله عليه وسلم وويلو_راغلی دی؛نوچې امين په پټه باندې وويلی شو؛نودغه صحابي ته څه پته ولګېده؟

٥ دحنفيانوپنځم دليل:

عن ابي وائل قال: كان عمر و علي رضى الله عنهما لا يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم ولا بالتعوذ، ولا بتامين(رواه الطحاوى: ١\١٥٠، وابن جرير، كمافي اثارالسنن: ١٢٥)

ژباړه

له ابووائل څخه روايت دی، چې: عمراوعلي رضى الله عنهمابه په بسم الله اوتعوذاوامين باندې جهرنه کاوه.

ځواب: داروايت ضعيف جدادی (ډېرخې ضعيف) دی، چې په پټه سره دامين لپاره دليل نشي جوړېدلی، ځکه چې ددې سندکې سعيدبن المرزبان دی، چې دا ضعيف راوي دی

دويم داچې دې روايت کې عنعنه هم شوي ده

لومړی دابوسعيدبن المرزبان حال دائمة الجرح والتعديل اومحدثينوڅخه واوره.

١ امام بخاري فرمايي: چې ابوسعيد بن المر زبان منكر الحديث دی.
(ميزان الاعتدال: ٧١\٤)

٢ امام دارقطني فرمايي: متروک الحديث. (الکامل الكاشف ٢٥٩\١)